**مطبوعاتی اعلامیه**

# زمونږ د بربادۍ لامل شخصاً د اردو مشر نه، بلکې د ډیموکراتیک ظالم نظام حاکمیت دی

که جنرال باجوه د پوځ مشر وي که نه، اشغالگرو ته به د دغه ناکاره سیستم غلامي روانه وي. له دغه مردار ځاه څخه چې هر څومره اوبه راوباسئ، تر هغه نه پاکېږي چې څو د استعمار فاسد جسد ترې را ونه ایستل شي. د استعمار غلامان د دې پر ځای چې د امت له لاسونو څخه د کفر د حاکمیت کړۍ وباسي، خلافت بیا تاسیس او د استعمارگرو پلانونه خنثی کړي؛ په ډېره خوشالۍ خپله دوره ټرمپ او مودي ته په غلامۍ تېروي. جنرال باجوه او عمران خان به د امریکا له لوری په افغانستان کې د دوی لپاره د چارو د اسانوونکو او هغو کسانو په توگه په یاد وساتل شي چې اشغال شوی کشمیر یې به ډېره بې غیرتۍ مودي ته تسلیم کړ. دوی له امت سره خیانت کوي او د هغو کسانو د خوشاله کولو په هڅه کې دي چې زمونږ له دین سره جنگېږي او په خپلو لاسونو او ژبو یې د خدای قهر ځان ته اخیستی. که جنرال باجوه له واک څخه لرې هم شي، نوم به یې تل د استعمار له خدمت کوونکو ډیموکراتانو او دیکتاتورانو سره یو ځای د تاریخ کثافتدانۍ ته ولوېږي.

د غرب ویجاړوونکی استثماري سیستم هېڅ وخت پرڅېرو تکیه نه کوي؛ بلکې په دې پورې اړه لري چې انسانان مختار دي، هغه څه چې الله سبحانه و تعالی حرام کړي، حلالوي یې او هغه چې الله سبحانه و تعالی یې امر کړی، حراموي یې. ډیموکراسي که پارلماني وي که ولسمشریزه، خیانت او دامت د سرچینو او چتمنیو لوټول پکې یو اصل دی. جنرال ایوب خان درې سینده هند ته ډالۍ کړل، بوټو او جنرال یحیی خان ختیځ پاکستان تسلیم او جنرال ضیاء سیاچین له گوابښ سره مخ کړ، همدارز نواز او جنرال مشرف کارگیل پرېښود. پرلهپسې ملکي او پوځي رهبریو د پاکستان اقتصاد د ډالرو په بدل کې د پیسو نړیوال صندوق ته تسلیم کړ. قضایه قوه لا هم د استعمارگر انگلستان تر قانون لاندې چلېږي او د لارډ ماکاول تعلیمي سیسټم د پاکستان د راتلونکي نسل فکر او ذهن فاسدوي.

دغه ملکي او نظامي رهبرۍ د غرب د هغه نړیوال نظم لاسپوڅي او غلامان دي چې په ۱۹۴۰ کلونو کې رامنځته شو او اوس د استعمار د وسیلې، ملگرو ملتونو تر چتر لاندې کار کوي چې امت په کوچنیو دولتونو ووېشي، کمزوری یې کړي او په دې توگه د غرب استعمار تسلط باوري کړي. ددغه نظامونو په شتون کې هرڅوک چې واک ته رسیږي نه به د مسجد القصي او اشغال شوي کشمیر د ازادولو لپاره د لښکر د لېږلو وړتیا ولري او نه به د امریکایي ډالرو واکمنۍ او د سود پر اساس استعماري پورونو ته نه وویلای شي. یوازې د نبوت پر تگلاره د خلافت بیا تاسیس به د نېشن سټېټس پر فکر ولاړ استعماري سیسټم رنگ کړي، د استثمار ټولې بڼې به له ریښو سره

خښې کړي، ژر به ټول اسلامی هېوادونه سره یو او په یوه ځواکن دولت بدل کړي، امت به هغه حالت ته بېرته یوسي چې وړ یې دی او مسلمانان به د ټولې نړۍ رهبران وي.

په دې توګه حزب التحریر د پاکستان په پوځ کې پر مخلصو او ریښتینو افسرانو غږ کوي چې نور د کمزورۍ هغه سیاست رد کړي چې امت او د هغوی عقیدې ته یې له خرابۍ پرته بل څه نه دي ورکړي او پر ځای یې حزب التحریر ته د ریښتیني بدلون د راوستلو لپاره نصرت ورکړي. د سعد بن موحد د هغه نصرت په اړه فکر وکړئ چې رسول الله ص ته یې ورکړ ، د عبدالله بن ابی واک ته د رسېدو پلان یې شنډ کړ او په دې توګه یې نا امنۍ، غربت او سیاسي جګړو ته یې د پای ټکی کېښود. هو دا نصرت و چې اسلام ته یې داسې یو عظیم دولت ورپه برخه کړ چې د ټولې نړۍ نظم ته یې جبېکه ورکړه او د یوې لسیزې په لړ کې یې د نړۍ دوه لوی قدرتونو را نسکور کړل. د نن ورځې سعد (رحمة الله علیه) به څوک وي؟ چې په خپل نصرت سره زموږ دین ته عزت او امت ته راحت ورکړي او د الله ج پر وړاندې خپل مقام لوړ وساتي.

## حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۱هـ.ق د ربیع الاول لومړۍ نېټه

۲۰۱۹م کال، چهارشنبه، د نومبر ۲۷مه

ګڼه:۲۵/۱۴۴۱